آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۵

# لاروركي لارويان

## شپږ ديرشمه برخه

### فريدريكس هاون

فريدريكس هاون د ډنمارک په شمال کې وړوکی ښکلی بندري ښار دی. د دوه زرم کال په دسمبرکې چې ما کوم معلومات تر لاسه کړل، په هغه وخت کې د فريدريكس هاون د ښار د اوسيدونكو شمير پنځه ويشت زره تنه ښودل شوی و. کمپ له ښاره وتلی، د ښار په يوه څنډه کې ودان شوی و، تولې له لرګيو نه يو پوړيزه د لنډې مودې له پاره جوړې شوې ودانۍ وې. د ودانۍ په منځوی برخه کې اوږد دهليز، دواړو اړخونو ته کوټې او د دهليز په منځ کې يو لوی صالون و. دواړو اړخونوته يې د پخلي له پاره برقي منقلونه او په يوه څنډه کې يو تلويزيون ايښودل شوي و.
مساپرو ته به نقدي پيسې ورکول کيدې او مساپرو به د خپلې خوښې وړ خواړه پخول. په کمپ کې له بيلابيلو هيوادونو څخه، د بيلابيلو ناسيونالونو خلک ليدل کيدل. افريقايان، آسيايان، د شرقي اروپا خلک، د منځنۍ ختيځ مساپر او...
دلته په دې پردي وطن کې هم د افغانانو په منځ کې هماغه قومي، ژبنی، سياسي، مذهبي، سيمه ايزې او... ستونزې له هماغې لومړۍ ورځې را بر سيره کيدې.
زموږ د لاري ملګري يې په ويش کې نورو کمپونو ته ليږلي وو، نويو خلکو سره مو د نابلدتيا په وجه خبرې نه راتلې. کرۍ ورځ به بيکاره ناست وو، د خيال پلونو او ځرت وهلو بادشاهان را نه جوړ شوي وو، د ډيپريشن او سترس مرضونه ورځ تر بلې زياتيدل.
د همدې ځرتونو او بې سرنوشتۍ په اړ و دوړ کې له يو عجيب الخلقه انسان سره مخامخ شوم. دې سړی ځان ملا او مجاهد ښوده، ده ځان د ګلبدين جان؟ د ډلې يو وفاداره او سرسپارلی سرتيری ګاڼه او تر اوسه يې په خپلې ډلې او ګړو کارونو وياړ کاوه. له ده سره د انسانيت، افغانيت، بشرپالنې او مرستې کوم فکر نه و، يوازې د خپلې ډلې، اخوانيتوب او د ده په نظر د درک کړي مسلمانۍ په غم کې و.
د خدای دې بنده عجيبه غونډې کارونه کول. دی يو سرسخته افراطي سړی و، هر څه يې ورانول. د ده په نظر دا ورانول د دې له پاره وو چې په اصطلاح کفارو ته ضرر و رسوي.
په ډنمارک کې هر څه ګران دي، په تيره اوبه او برېښنا. يوه ورځ پخلنځي ته لاړم، يو تن ناست و د تلويزيون ننداره يې کوله. د برقي منقل له څنګه په تيريدو سره مې منقل ته پام شو چې په آخره درجه کې چالان دی. ناست کس نه مې پوښتنه وکړه چې دا چا چالانه بريښی دی؟
هغه په ځواب کې همدا عجيب سړی را و ښوده چې همدا اوس يې هګی پخې کړې او منقل يې همداسې پرينبود.
ورغلم، ورمې ور وټكاوه، پوښتنه مې ځينې وكړه چې دا منقل دې هير شوی كه څنګه؟
ده په خندا را ته و ويل :
«ځي کوې، مفت برق دی، هسې هم د کفارو مال دی.»
ما څه و نه ويل، راغلم منقل مې صفر كړ. بله ورځ چې بيا پخلنځي ته لاړم،که ګورم د سرو اوبو نل خلاص دی او ښه په شدت اوبه ترې رواني دي. پوښتنه مې وكړه چې دا نل چا خلاص پرييښی دی؟
بيا هماغه ځواب چې هماغه سړي پياله پريولله او په خپله مخه ولاړ.
ورغلم ومې پوښته:
دا نل دې ولې خلاص پرييښی دی؟
دا وار ته د دې پر ځای چې زه ور ته په تنده لهجه څه و وايم، ده خوله را باندې را خلاصه کړه او راته وې ويل:
د تا يې څه، د تا نل خو نه دی، ښه مې کړی دی قصداً مې خلاص پرييښی دی، دا د کفارو مال دی بايد کفارو ته په هر ډول چې کيږي، ضربه ورکړل شي.
ما ور ته و ويل:
ګوره انديواله!
دلته د کفر او اسلام مسآله طرح نه ده، دا پيسي او دا مصرف د مهاجرو او د نړۍ د ډيرو مجبورو خلكو له پاره بيلې شوې پيسې دي، دا بايد بې ځايه و نه لګول شي، دا پيسې بايد د نړۍ پر هغو مجبورو انسانانو مصرف شي چې هغوی بې كوره او بې وطنه شوي دي لکه زه او ته، هغوی چې خپل هر څه له لاسه وركړي وي، په خپل هيواد کې د بيلابيلو

دلایلو له مخې ژوند نه شي کولای او په بل هیواد کې پناه اخلي. دا پیسي او دا مصرف د کفر او اسلام نه، بلکي د همدې مجبورو خلکو حق او مال دی، که څوک یې په ناحقه ولګوي، دا به ښه کار نه وي.
ده په ډیر قهر را ته و ویل:
«څه وروره پر مادي دا کمونستي افکار مه تطبیقوه.»
د ټوپکیانو له سوځنده اور او د ړیرو له ناتاره د راغلو افغان مساپرو زره د هغوی له ظلمونو او ناکردو څخه ډک و او کله به چې دې ښاغلي؟ د خپل کري جهاد؟ په یادولو سره غوښتل چې ځان ویاړلی او قهرمان وښیي، نو ځېل شوو او رټل شوو افغانانو به د رد ځوابونه ورکول. یوه ورځ همدا سړی بیا په پره شو او د خپلو کړو اعمالو کیسي یې پیل کړې او وې ویل:
«ما جهاد کړی دی، لس میله سلاح به مې له پاکستانه پر شا افغانستان ته را چلوله او...»
ده چې خپلې خبرې لاجوابه او حق په جانبه ګڼلې، په بریالي ډول یې ما ته مخ را واړاوه او وې ویل:
«اوس څه په کې وایې، په دې کې هم شک لرې او خبرې په کې راباسې؟»
ټولو ناستو خلکو، په حیرانتیا کتل چې زه څه ورته وایم. ما ورته وخندل او په آرامه مې ورته و ویل:
ګوره! تا له خپل نامه سره د معلم پاکه کلمه نښلولې ده، ښوونکې ټولنې، په تیره نوې نسل ته د ژوند او تعلیم ډالی او زیری راوړې؛ خو ته په خپله خوله اقرار کوې چې تا به له پاکستانه افغانستان ته لس میله سلاح په شا را چلوله، سلاح خو خلکو ته د مرګ زیری ډالۍ کوي، ته خلکو ته د مرګ استازی وې او مرګ دې ورته ډالی کړی دی؛ کاشکې دې د لسو میلو ټوپکو پر ځای پنځه ټوکه کتابونه خپل هیواد او خلکو ته راوړی وای، اوس به افغانستان او افغانان داسې تباه او په وینو کې لیت پیت نه وای، زه او ته به د ګدایي پر دې دستر خوان نه وو ناست او...
کله چې فریدریکس هاون ته و رسیدم، ما د مطالعي له پاره څه نه درلودل. وروسته له څه مودې چې ښار کې یو څه بلد شوم، د ښار کتابتون مې پیدا کړ. کتابتون ته ورغلم، د شربت ګلې له یو لوی عکس نه پرته، د پښتو بوی او بخرکی هم نه و په کې.
ما شربته نه پیژنده او نه مې یې عکس چیرې لیدلای و، د عکس په لاندنۍ برخه کې د عکس په باب لنډ مالومات لیکلی و، پرته له دې چې هغه ولولم، عکس په ځان مصروف کړم اوړده شیبه د عکس په ننداره بوخت شوم.عکس زما له قد نه هم لوی او ښکلی چاپ کړای شوی و. ما عکس ته کتل او عکس ما ته، ما داسې انګیرله چې ګڼي عکس خبرې را سره کوي، د شربت ګلې سترګو څه ویل او زه ښه ور باندې پوهیدم.
کله مې چې د شربت ګلې د عکس په لیدلو یو څه تنده ماته شوه، بیا مې د افغاني کتابونو پوښتنه وکړه، مسؤل نفر را ته و ویل:
د افغانستان برخه په دې کتابتون کې نه شته، خو که دې فارسي ژبه زده وي، د فارسي برخه به در وښیم.
ما و ویل سمه ده.
د یاد کتابتون په فارسي برخه کې شا و خوا درې سوه کتابونه ایښي وو چې د ادبیاتو برخه په کې د پاملرني وړ وه.
دا ډیری کتابونه ما پخوا لوستلي وو، خو بیا مې هم یو څو ټوکه د بیا لوستلو له پاره انتخاب کړل چې تر ډیرو پورې یې مصروف وساتلم. په بې سرنوشتۍ کې د انتظار شپې ډیرې سختې وې، خو د کتابونو شته والي را باندې لړ را آسانه کړې.
په کمپ کې مې له پنځو میاشتو انتظار وروسته مثبت ځواب واخست، یعني په ډنمارک کې د دوه زره لومړي کال د مې په یودیرشمه نیټه ومنل شوم، بیا نو بل ښار(هیدرسلف) ته کډه شوم، چې تر اوسه په کې اوسم.
په نوي ښار کې، هر څه نوي وو. نوې خلک، نوې ټولنه او نوی ژوند. بیا ښوونځی او بیا ټولګی.
ښه مې په یاد دي چې پوره اوه کلن نه وم چې پلار مې په کابل کې د علاوالدین تجربوي ښوونځي ته بوتلم. زه له زده کړې نه بیرو بار، منډو او شیطانۍ ته ډیر خوشحاله وم او دا دی اوس چې له هغي ورځې نه ډیر کلونه تیر دي، خو ټولګی مې نه پریږدي او نه ور نه خلاصیږم.
نوي ښار ته له رسیدو سره سم، دوو ښوونځیو ته باید تللی وای. یو د ډنمارکي ژبې د زدکوې ښوونځی او بل د ډنمارک د تاریخ، جغرافیې، اقتصاد او کلتور د زده کړې ښوونځی. دې ښوونځیو ته هره ورځ په تګ سره ما ته هغه وختونه را یاد شول چې د کابل پوهنتون په تشکیل کې د ځمکپوهني پوهنځی لا نه و جوړ شوی، د جغرافیې څانګه د ادبیاتو پوهنځي په تشکیل کې وه. د جغرافیې ډیپارتمنت یو تن استاد چې سدید تخلص یې کاوه، کله، کله به یې یا په ټوکه یا په رښتیا یوه جمله تکراروله. دی به چې له ټولګي نه را و وت اولاسونه به یې په تباشیر سپین شوي وو، په خندا به یې و ویل:
«چې زه مړ شوم، زما ځنازه له ټولګي نه اوچته کړئ.»
زه هم سره له دې چې د دنیا پای ته رسیدلی یمه، خو ټولګی او درس مې نه پریږدي، ډاریږم چې ځنازه مې له ټولګي نه و نه وزي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

نوي ښار(هيدرسليف) ته په راتګ سره زه په دې فکر کې شوم چې په ښار کې ميشت افغانان د ملي فکر په لړلو سره له کوم سياسيي، تنظيمي، ګوندي، قومي او ژبني تضاد نه پرته، د يوې فرهنګي ټولنې پر شا و خوا سره را ټول کړم؛ خو له بده مرغه چې هر چا له خپل آدرس څخه د خپلو تيرو ناکامو دريځونو او فکرونو پر بنا منفي ځوابونه را کول. ځينو رنګارنګ پلمې کولې او ځينو په ښکاره ډول د افغانانو له را ټوليدوسره په دې خاطرمخا لفت کاوه چې ډنمارکي پوليسو ته د دوی ويلې درواغو څخه پرده پورته نه شي.
په دې ډله کې وو داسي کسان چې هلته په افغانستان کې په کوم ولايت کې عادي مامور و، خو دلته يې ځان د هماغه ولايت والي معرفي کړی و او په همدې افغانانو کې چې که را ټول شوي وای، داسې افغان هم و چې هلته د هماغه ولايت د امنيې قومندان و او د ياد ولايت ټول ملکي او نظامي تشکيل ورته مالوم و؛ ځکه نو دا د درواغو واليان د افغانانو له ټوليدو سره مخالفت کاوه او ټينګار يې کاوه چې دې ټولنو په افغانستان کې هم کومه نتيجه نه وه ورکړې، دلته يې جوړول هم کومه نتيجه نه ورکوي، هسې خپل وخت مه ضايع کوئ. دا ښاغلي په پچه سپاره او د کشمير ننداره يې کوله او«ټريې په پر پټاوه»؛ خو په دې نه پوهيده چې ډنمارکيان هيڅ خبره نه پټوي.
دې او دې ته ورته خلکو نه يوازې په وطن کې، بلکې دلته په اروپا کې هم د افغانانو د لړې والي او بيلتون پلوي دي او تر اوسه پورې د بيلوالي، کرکې او بد بينی تخم د خلکو د ذهن په کرونده کې پاشي.
او دا دی تر اوسه هم موږ د همداسي مغرضو اشخاصو له لاسه نه کومه ټولنه لرو او نه هم هغسې ټوليږو چې بايد ټول شوي وای. که ټول هم شو، هماغسې د خپلو پخوانيو منفي عادتونو پر بنا خپله درنه او د نورو سپکه وايو.
نوی ژوند، نوي خلک، نوي قوانين، نوي ښوونځي، نوي مکلفيتونه، نوې ستونزې، نوې تشويشونه او نويو... د سرپينو په داسي ډنډ کې ونښلولم چې اوس هر څه لاس او پښې ښورم، ور نه خلاصيدای نه شم او هر کله د استاد اسد آسمايي هغه خبره او خاطره را ياديږي چې دی پټو پولسو په موټر کې کينولی و او د زندان په لوري يې بيوه، د ښار منځ کې کومې ترافيکي اشاره کې د دريدو پر مهال يې د کوم آشنا سترګې ور باندې لګيدلې وې، نو ورته ويلې يې و:

واه، واه باداره عيش دې کړی، په والګا کې سپور يې!

اوس موږ هم عيش کړی، په اروپا کې ژوند کوو.

لکه د چا خبره زموږ لاس هم تور سپي څټلی، هر چيرې چې ولاړ شو ښه مو په مخه نه راځي، بس وراني او وراني. په نړيواله کچه سياسي چټکو بدلونونو، نظامي عملياتو، لوړو مصارفو او له اټکل نه وتلو تلفاتو، نوي تضادونه او ستونزې وزيږولې؛ چې په نيغه يې په اروپا ميشتو مسلمانانو، تورسرو آسيايانو او په ځانګړي ډول پر افغانانو باندې منفي اغيز درلود او لري يې.

د شيږ ديرشمي برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ